ليکوال: جواد نعيمي

# داستان څه دی او څنګه ليکل کېږي؟

ژباړن:
صالح محمد صالح

۱۳۸۲ ل کال

Download from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

د کتاب ځانګړنې:

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم ::: داستان څه دی او څنګه لیکل کېږي؟

لیکوال ::: جواد نعیمي.

ژباړن ::: صالح محمد صالح.

چاپکال ::: 1382ل/ 2004م کال.

خپرندوی ::: بېنوا فرهنګي ټولنه- کندهار.

چاپشمېر ::: (500) ټوکه.

کمپوز/ ډیزاین ::: د هوسۍ مجلې اداره.

کمپیوټرچارې ::: بېنوا فرهنګي ټولنه- کندهار.

Download from: ketabton.com

**ډالۍ:**

زما د هېواد کيسه ليکوالو ته، چې هيله ده د ټولنې له هرې برخې څخه سوژې د کيسې په بڼه راونغاړي.

صالح

Download from: ketabton.com

## داستان څه دی او څنګه لیکل کېږي؟

داستان، یو ادبي ژانر دی، چې له ډېر پخوا څخه انسان ورته پام کړی او د بشر پر ژوند او فکر یې ژور اغېز اچولی دی. انسانانو په هره دوره کې د خپلو ارمانونو او هیلو د خپراوي لپاره، د هنري داستانونو جوړښت ته لاس غزولی او اوس هم ورسره مل دی، چې په دې توګه خپل فکرونه په نامستقیم ډول نورو ته ورسوي.

د دې مقولې د ارزښت په برخه کې په دیني سرچینو، په ځانګړې توګه د خدای ﷻ په کلام کې له زیاتو داستان ډوله نکلونو سره مخ کېږو، چې پر ځانګړنو او جوړښتونو یې خبرې کول، زیات وخت ته اړتیا لري.

له شك پرته، د اسلامي او انقلابي موخو خپرول او پراختیا، له ټولو هنري قالبونو، په ځانګړې توګه له داستان څخه ګټه اخیستنې ته اړتیا لري.

ځکه چې زموږ د عقیدې او ایډیال دښمن هم هڅه کوي، له هرې وسیلې څخه په کار اخیستو، یا هم له بېلابېلو هنري قالبونو څخه په ګټه اخیستو سره د انساني، فطري او دیني فکرونو، دغه راز د اسلامي ارزښتونو په له منځه وړلو کې ترې کار واخلي.

پر همدې بنسټ، کله چې د نړۍ داستاني ادبیاتو ته کتنه کوو، الحادي او غرب ځپلي اندېښنې او خپلې هم په کې له ورایه کتای شو. دا مهال، چې موږ د خپل لیدلوري له مخې، ځانګیز او هدف لرونکي هنري ارزښتونه نه نفي کوو، په دې باور یو چې که ښکلی قالب او سمه منځپانګه(محتوا) په یوه هنري اډانه کې راڅرګنده شي، نو دغه هنري مطلب په اغېزناك ډول پیام اخیستونکو ته لېږدېدلی دی.

نو، د داستان ژور اغېز، اهمیت او ارزښت ته په پام سره، د دغه هنري قالب جذابیت او اړتیا، د ارمان او ایمان پایښت ګڼل کېږي.

له همدې کبله، موږ هم په دې هیله یو چې د پاك خدای ﷻ په مرسته، د داستان په اړه ځینې مهمې برخې مطرح کړو، چې د داستان په اړه مو ځینې سرلیکونه او نیولیکونه خپلو لوستونکو ته ټاکلي، چې دلته به وړاندې شي.

په دې بحث کې راغلي توکي، هغه څه چې باید وي، نه دي. بلکې یوازې یو بڅرکی ګڼل کېږي چې پراختیا او بشپړتیا یې د داستان په ځوانو مینه والو پورې اړه لري.

ښایي دا بحث یوازې د یوې شمعې یوه وړه وړانګه وګڼو، چې د مینه والو په زړونو کې د مینې او لېوالتیا د راپارونې په موخه، د لمر پرلوري د لار پرانیستنې لپاره بله شوې وي.

Download from: ketabton.com

د بېلابېلو دليلونو له مخې، هڅه کوو د داستان د عناصرو په اړه بېلابېل سرليکونه ولرو. د دغو توکو راټولونه او لا پراختيا د مينه والو او لوستونکو دنده ده... په دې هيله چې دا وړه ټولګه د پلټونکو په لاسونو کې د يوه بل مشال په څېر وي، چې پرمخ پرته لار ورته روښانه کړي.

د خدای په امان

جواد نعيمي ــ مشهد

1370ل کال ــ پسرلی

Download from: ketabton.com

## د داستان ځینې تعریفونه

موږ، دلته د داستان اصطلاح په عامه مانا تر غور لاندې نیسو او پر هغو تعریفونو هم کتنه کوو، چې د هغه په اړه رامنځته شوي دي. موږ پوهېږو چې داستان په لومړي گام کې د انسان له احساس سره تړاو لري. د خوند او تفریح پر رامنځته کولو سربېره د نورو کسانو له تجربو څخه هم د گټه اخیستنې په برخه کې مرسته کوي.

نو له عیني انځوریز داستان څخه تعبیر، له ژوند څخه د لیکوال برداشت اود هغې هڅې څرگندونه ده، چې فکرونه او عواطف تر اغېزې لاندې راولي.

بل تعریف: د یو لړ رښتینو پېښو ټولگه گڼل کېږي، چې په ژوندي ډول له جزئیاتو سره یوځای بیان شوی وي، چې لوستونکي یا اورېدونکي هم هغه مجسم کړای شي.

جوزف شیپلي، د نړۍ د ادبي اصطلاحاتو په فرهنگ کې لیکي: د داستان تعریف داسې راغلی دی:

"داستان د پېښو د گزارش او روایت لپاره یوه عامه اصطلاح ده. په داستاني ادبیاتو کې داستان نندارې او د یوه هدف لپاره د دوو متضادو ډلو ترمنځ لانجو او هڅو ته وایي."

فاسټر په "د رمان جنبې" نومي کتاب کې داستان د وخت له اوږدوالي سره سم د پېښو بیان ته وایي. دی د بېلگې په توگه تر سهارنۍ وروسته غرمنۍ(د غرمې ډوډۍ) او تر دوشنبې وروسته سه شنبه، دغه راز تر مړینې وروسته تباهي یادوي...

هغه وړاندې زیاتوي: "داستان په حقیقت کې تر ټولو ساده او حقیر ادبي ارگانیسم ته وایي. خو یو بل څه چې په "رمان" نومي پېچلي ارگانیسم کې هم شته، هغه یو گډ لامل دی، چې په داستان کې هم موندل کېږي."

ځینې داسې داستانونه هم شته، چې د وخت ترتیب په کې نه مراعاتېږي. خو بیا هم د "وخت" عنصر د پېښې په څېر په داستان کې خپل ځای لري .

د (داستان: تعریفونه، اوزارونه او توکي) نومي کتاب لیکوال د داستان تعریف داسې کوي:

"داستان هغه منثور هنري اثر ته وایي، چې تر تاریخي ارزښت وړاندې د لیکوال د خپل نوښت، تخیل او هنر زېږنده وي. داستان د تاریخ پر بنسټ رښتینی وي، یا یې هم د تخیل له ځواك څخه سرچینه اخیستې وي. په هر حال یې غوره صفت دا دی، چې د لوستونکي د روحاني خوند لپاره ولیکل شي او لږ دې د پوهونې لپاره.

په بله مانا، داستان په لومړي گام کې د لوستونکي له زړه، احساساتو او عواطفو سره مل کېږي او په دویم گام کې د هغه له پوهې او د استدلال له ځواك سره.

Download from: ketabton.com

استادانه داستان، لوستونکی اړ باسي، چې غور وکړي، خو د ټولو داستانونو موخه دا ده چې لوستونکو ته د حس کولو امکان ورکړي.“

په دې تعریف کې څو ټکي د ځنډ وړ دي، د منثور هنري اثر توری دا څرګندوي چې لومړی داستان یو هنري شکل دی. دویم دا چې هر منثور اثر داستان نه ګڼل کېږي. مورږ پوهېږو چې تاریخي، فلسفي او ټولنیز اثار، دغه راز یونلیکونه، ژوندلیکونه او نورې لیکنې، ان ادبي ټوټې هم کېدی شي ځانګړی جذابیت او نورې هنري ځانګړنې ولري. خو بیا هم په لومړي ګام کې د انسان له احساساتو او عواطفو سره نه مل کېږي. بلکې د هغه پر پوهې او د استدلال پر ځواك تکیه کوي، چې په داستانونو کې نه شمېرل کېږي .

دا جمله چې: ”تر یوه حده د پوهونې لپاره...“ دا څرګندوي چې داستان په یوه مانا د نورو هنرونو غوندې نه دی. ځکه چې کولای شي له تاریخي، فلسفې، سیاسي، ټولنیزو او روزنیزو مسایلو سره هم یو شي. کله بیا تر یوه حده د لوستونکي د استدلال له ځواك سره یو کېږي. دا داستاني او غیرداستاني توکي، داستان له نورو هنرونو څخه تر یوه حده بېلوي.

خو باید وویل شي، چې روزنیز، فلسفي، سیاسي او ټولنیز داستانونه، هر یو خپل ارزښت لري او د نفي کولو وړ نه دي.

پر دې سربېره، باید یادونه وشي، چې د هر داستان هنري ارزښت د داستان په ټولو جوړښتونو کې د سوچ او موخې له رسوخ، دغه راز د هغه له پیام او منځپانګې سره تړاو دی.

د ځنډ وړ بله خبره په وروستي تعریف کې راغلې ده. هغه د لوستونکو د حس په امکان پورې اړه لري،چې د تعریف په پای کې ورته‌اشاره شوې ده.

د داستان په مرسته لوستونکي سوچ ته هڅول بنسټیز کار دی، خو هغه لیکوال یې له عهدې وتلای شي، چې استادانه او له نوښت څخه ډك کار وکړي. داسې یو هنر وکاروي، چې اغېزناك وي او پر نورو اغېز وکړي. دغه راز د خپلو لوستونکو لپاره دا امکان په لاس ورکړي، چې هرڅه حس کړي، لمس کړي، ویې څکي، هضم یې کړي، د لید او لیدلوري ځواك یې زیات کړي.

"جوزف کنراد" وایي:

”هغه دنده چې غواړم ترسره یې کړم، دا ده چې د لیکل شوي توري په مرسته تا ته دا امکان درکړم چې واورې، حس کړې. تر ټولو مهمه لا دا چې تا ته دا امکان درکوم چې ووینې.“

Download from: ketabton.com

# په داستان کې خبرې اترې

خبرې اترې څه دي؟ هغه خبرې او ويناوې چې په يوه داستان کې د شخصيتونو ترمنځ کېږي او په داستان يا نورو ادبي ژانرونو کې د يوه يا ډېرو شخصيتونو څرګندونو ته، خبرې اترې وايي .

پوهېږو چې شخصيت جوړونه يو ارزښتمن داستاني توکی دی. شخصيتونه انسانان دي او انسانان د پوهونې راپوهونې لپاره خبرو ته اړتيا لري. نو پر دې بنسټ خبرې اترې هم د داستان په جوړښت او شخصيت جوړونه کې يوه بنسټيزه برخه ګڼل کېږي. په حقيقت کې په طبيعي ډول په داستان کې د خبرو اترو ليکل، کوم اسانه کار نه دی. خو په هر حال، د زده کړې وړ دي، د مطالعې له لارې (په ځانګړې توګه ننداريليکونو "نمايشنامو" د مطالعې له لارې) يا هم د خلکو خبرو ته د غوږ نيولو او له هغو څخه د يوه مشترك کيفيت د موندلو له لارې کولای شو، چې تر ډېره حده "خبرې اترې" ترلاسه کړو. څرګنده خبره ده چې هره خبره په همدغه بڼه داستان ته نه شو دننه کولای. داستان ليکونکی بايد له ټولو اورېدل شويو خبرو څخه د خبرو اترو ليکلو ته هغه څه وټاکي، چې اغېزناك او د موخې په څرګندتيا کې مرستندوی وي. هغه په دې برخه کې زياتونې او کمونې هم وکړي. بايد له ځانه وپوښتي چې ايا اتل يې د خپلو ځانګړنو له مخې يوازې هماغسې خبرې وکړي، که نه؟ که داسې خبرې وکړي څه به وشي؟ که داسې خبرې ونه کړي، څه به پېښ شي؟

د "خبرو اترو" يوه دنده په حقيقت کې د داستان "رښتيا څرګندول" يا هم "رښتيا خوښونه" ده. لوستونکی هم هغه وخت داستان لولي، چې پېښې د پېښېدو وړ يا لږ تر لږه د امکان وړ ومومي. شخصيت جوړونه او د هغه په خولو کې د خبرو ځايول هم بايد له دې مسلې سره مرسته وکړي.

د ډيالوګ يا خبرو اترو په مرسته ليکوال کولای شي چې لوستونکي ته هغه چاپېريال او فضا ولېږدوي، چې پېښه په کې کېږي. دا خبرې اترې بايد داسې وليکل شي، چې تر يوه حده د داستان د شخصيتونو ځانګړتياوې هم څرګندې کړي. تر ټولو ارزښتمن لامل چې د لوستونکو په نظر کې داستاني شخصيت رښتينی انځوروي. د هغه له شخصي ځانګړنو سره د هغه د خبرو اترو يووالی دی.

ليکوال بايد هېڅکله هم په ډېرو او بې هدفه خبرو سره خپل لوستونکي ستړي نه کړي. که خبرې اترې لوستونکو ته څه ورنه کړي، بايد وپوهېږو چې بې ګټې دي. خبرې اترې بايد د داستان په جوړښت کې داسې ځای شوې وي، چې د يوې برخې له منځه وړل بايد د داستان جوړښت ته زيان ورسوي.

خبرې اترې بايد د هغو له شخصيتونو سره همغاړې، همنوا او طبيعي وي. پر دې بنسټ، زلمی شخصيت بايد د زلميتوب په تناسب خبرې وکړي او هوښيار ځوان بايد هوښيارانه وغږېږي، ځکه چې خبرې اترې ډېر ارزښت لري او په حقيقت کې د اتلانو تر ټولو ظريفه او پټه اروايي جنبه څرګندوي.

Download from: ketabton.com

نو په داستان کې د پېښو او اعمالو تر ټولو ارزښتمن لامل، خبرې اترې دي، چې طرحې ته هم پراختیا ورکولای شي او د داستان اصلي جوړښت سړي ته انځوروي. دغه راز خبرې اترې د شخصیتونو د پېژندګلوۍ وسیله هم ده، چې داستان ته د ژوند ځواك او قدرت ورکوي، چې خوځښت ورپه برخه کوي. خبرې اترې د کار د دروندوالي په کمولو، د صحنو په ارایه، په داستان کې د پېښو د دننه کولو او لوستونکو ته د وړ خبرتیاوو د ورکولو په برخه کې هم مرسته کوي.

باید هېره نه کړو، چې د "داستان تر اروا" وړاندې مو د خبرو اترو په اړه ولوستل. په دې برخه کې کار کول غور غواړي، چې لېي کول د کار ارزښت ته ګوزار ورکوي. موږ باید خبرې اترې یوازې د داستان سینګار ونه ګڼو، لیکوال باید له دغه لامل څخه ډېره ګټه پورته کړي. هغه دا چې د لوستونکي په ذهن کې د داستان طبیعي اوسېدل تقویه کړي. نو د داستان دغه ستر اړخ باید ساده او برسېرن ونه ګڼل شي.

خبرې اترې باید نیمګړتیاوې او هنرونه راڅرګند کړي او د پیام رسولو او د موخو په غزولو کې دې اغېزناکې او ګټورې وي. دې ټکي ته په پام سره، ضروري ده، ویوهېږو چې داستاني اتلان، په هر حال کې انسانان دي او انسانان طبعاً بېلابېل حالات او بېلابېل احساسات لري، کله خوښ دي، کله خواشیني، کله روغ دي، کله ناروغ، کله غلي دي، کله بیا غوسه ناك او خپه، کله شتمن او کله نېستمن...

دغه راز د شخصیت یا شخصیتونو په برخه کې هم بېلابېل احساسات او حالات شته، دغه اروایي او عاطفي بدلونونه په طبیعي ډول د انسانانو پر خبرو اترو هم سیوری اچوي او اغېز پرې کوي. لیکوال باید دغو ټولو ټکو ته ځیر وي .

توري، وزن او اهنګ، د جملو اوږدوالی، دغه راز خبرې اترې هم د هغو له ویونکو سره نېغ اړیکي لري. د بیان له مخې د بېلابېلو انسانانو د خبرو ترمځ توپیر شته، ان د بېلابېلو انسانانو تکیه کلام هم سره ورته نه وي. د ساري په توګه د یوه ډاکټر، د پوهنتون د ښوونکي او یوه پلورونکي د خبرو ترمنځ ډېر توپیر شته. په دې توپیر چې په تکیه کلامونو کې "ښاغلی" او "اغلې" توري هم ځای لري، خو د یوه ماشوم او مشر د خبرو ترمنځ هم توپیر له پامه نه شو غورځولای. بېځایه یې نه دي ویلي، چې: "خبرې د انسان هنداره ده ."

له کتابي او سالم عبارت یا هم محاوره یي ډوله خبرو څخه کار اخیستل، د لیکوال په غوښتنې، د داستان په اړتیاوو او د مخاطب په ځانګړنو پورې اړه لري .

خبرې اترې د داستان په سبك پورې هم تړلی دی. د ساري په توګه "خبرې اترې" په هغو کیسو کې چې ادبي بڼه یې پر نورو جنبو زوروره وي، خپله طبیعي او دودیزه بڼه له لاسه ورکوي. تر ډېره حده په لفظي او ادبي صنایعو سینګارېږي، د بېلګې په توګه به د سعدي د ګلستان نومي کتاب دا خبرې اترې ولولو:

"یوه سوداګر ته زر دیناره تاوان ورسېد، زوی ته یې وویل:

Download from: ketabton.com

دا خبره بل چا ته مه کوه.

ويې ويل:

ای پلاره! په سترګو، نه يې وايم. خو ما د دې کار په ګټه پوه کړه .

ويې ويل:

په دې توګه به مصيبت دوه برابره کېږي نه، يو دا تاوان، بل د ګاونډيو حسد."

دا برخه هم په دې ټکي سره پايته رسوو، چې خبرې اترې کولای شي د دوو يا ډېرو شخصيتونو ترمنځ، يا هم د يوه شخصيت په ذهن کې وزېږي.

Download from: ketabton.com

## افسانه، نکل، کیسه او داستان

موږ غواړو چې د داستان او د هغه پر ځانګړنو خبرې وکړو، خو غوره به وي، که لومړی افسانه، نکل او کیسې ته هم یوه کتنه وکړو.

که څه هم داستاني قالبونه د بېلابېلو انساني توکمونو په څېر، یو له بل سره توپیر لري، نو بیا هم هر قالب خپله ځانګړنه لري، چې تر یوه حده یې پېژندنه اسانه کوي. باید پام وساتو چې داستاني ډولونه هم پر بېلابېلو بڼو وېشل شوي دي. هغه څه چې زموږ د پاملرنې ټکی دی، له څو ادبي بڼو سره بلدتیا ده، چې نورو مقولو ته هم لار پرانیزي.

افسانه:

هغه مهال، چې انسان، بهرنۍ نړۍ ته د خپلو دروني خبرو د څرګندولو لپاره په سوچ کې شو او ویې غوښتل داستاني بڼه ورکړي، څرنګه چې یې په دې برخه کې د داستان لیکنې لپاره اصول یا لار نه لرله، نو یوازې به یې د خپلو هیلو د څرګندولو لپاره له خپل تخیل څخه کار اخیست. نو د ناواقعي شخصیتونو او پېښو په بیانولو یې خوله خلاصه کړه. په دې توګه افسانه جوړونه په لومړنیو او ابتدایي بڼو پیل شوه او یوه پېچلې، کنایه ډوله او سمبولیکه لار یې ووهله.

له خیال څخه زیاته ګټه اخیستنه ده، چې وینو زیاتې افسانې له جهل، خرافاتو او بېځایه خبرو څخه ډکې دي. ښایي د افسانه جوړونې یو دلیل به دا هم وي، چې له عجایبو او حیرانوونکو پېښو سره وېره او تمه ورنغاړي، بیا یې خلکو ته وړاندې کوي، چې یوه شېبه ورباندې بوخت وي.

پر دې بنسټ، افسانو هغه پېښې هم رااخیستې، چې په ټولیز ډول یې یا اتلان رښتیني نه دي، یا یې هم ناواقعي کارونه ترسره کړي دي. په زیاتو افسانو کې د وخت، ځای، څېزونو او اتلانو اړیکې منطقي نه دي. خو موږ په افسانو کې ګټورې او ارزښتمنې بېلګې هم لرو.

نکل:

موږ ټول لږ و ډېر له نکل سره بلد یو، د نکل څرنګتیا د هغه لنډوالی دی. نکل (حکایت) په حقیقت کې له یوې پېښې څخه ګزارش دی، چې کېدی شي حقیقي یا خیالي نه وي .

طبیعي خبره ده، چې نکل د خپل لنډوالي په خاطر نه شي کولای پېچلې بڼه ولري. په ایران کې د عبید زاکاني نکلونه لنډ، خو طنز ته ورته دي، چې زیات ښکلي او عالي دي.

Download from: ketabton.com

دغه راز د شیخ سعدي حکایتونه هم خواږه او په مانا کې لوړ دي. د نکلونو په ترڅ کې کولای شو زیات سیاسي، مذهبي، ټولنیز، پوهنیز او نور مسایل وروزو. د مشرانو د ژوند له ډول ځخه خبر شو او د هغوی د تجربو له زېرمو ځخه ګټه پورته کړو. نکلونه پر اروايي خوند سربېره د یوه ښه ژوند لپاره، ډېر عبرتناك هم کېدی شي.

کیسه:

که څه هم ځینې کسان کیسه او داستان یو ګڼي، خو که داستان د ادبیاتو یو داسې ډول وګڼو، چې شپېته اویا کاله وړاندې زموږ په هېواد کې دود شوی، بیا یې د اروپايي لیکوالو د سبك پر بنسټ یوه ښه خپله کړې ده، نو باید چې د کیسې او داستان ترمنځ توپیرونو ته هم نغوته (اشاره) وکړو.

کیسه لیکنه او ویل، زموږ په هېواد کې له ډېر پخوا ځخه ځانګړی ځای لري. په پخوا وختونو کې به کیسه له یوې سینې ځخه بلې ته لېږدېدله، کیسه ویل او د پېښو بیانول به د تېر او راتونکي وخت ترمنځ د اړیکي یوه وسیله وه.

په حقیقت کې کیسې او داستان ته د انسان لېوالتیا، د تجربو د لېږدونې رالېږدونې یوه وسیله وه او ده.

کیسه، یوه ساده او یې طرفه روایت دی، چې پر پېښو او ځرګندونو ولاړه ده. کله چې یې لوستونکی لولي، یا یې اوري، له کومې ځانګړې پېچلتیا، لوړتیا او ځوړتیا سره نه مخ کېږي.

په کیسه کې، د پېښو چورلیځ (محور) پر بېړنیو پېښو راڅرخي، یانې پېښې کیسه زېږوي، په حقیقت کې یې بنسټیز رکن جوړوي. پرته له دې چې د کیسې د شخصیتونو په پراختیا او جوړونه کې کوم رول ولوبوي.

په بله مانا، ویلای شو: د کیسې شخصیتونه او اتلان ډېر لږ بدلون مومي، خو اکثره د بېلابېلو پېګښو په منګولو کې ښکېل دي. د کیسې جوړښت نقلي او روایتي دی. ژبه یې هم محاورې او خبرو اترو ته نژدې ده. ان توري، اصطلاحګانې او ولسي متلونه هم په کیسه کې زیات پیدا کېږي، نو د کیسې ژبه دودیزه او معمولي ده.

د خلکو ژوند، دغه راز نور اړخونه د طبیعت د بېلابېلو انځورونو په مرسته انځور شوي دي. په دې توګه کولای شو، کیسه انسان ته د انسان د پېژندنې او د خیر و شر د بیان تر ټولو ځواکمنه پدیده وګڼو.

داستان:

پوهېږو چې د لیکنې په برخه کې زموږ تجربه او عقل قضاوت کوي. خو د کیسې او داستان په برخه کې تر ټولو وړاندې د انسان احساس تر اغېز لاندې راځي .

Download from: ketabton.com

وړاندې مو یادونه وکړه، چې داستان په نننې مفهوم، ځینې ځانګړنې لري، چې له کیسې او نکلونو څخه یې بېلوي. دا مو هم وویل چې ادبي ژانرونه او ډولونه د انساني توکم په شان سره توپیر لري، چې نن یې ډلبندي هم په اسانۍ سره نه شي کېدای.

په هر صورت، نن داستان ته هم د کیسې نوم ورکول کېږي. خو په دې صورت کې، له کیسې څخه موخه هماغه ادبي ډول دی، چې نن ورته داستان وایي.

داستان په حقیقت کې، د پېښو یوه ټولګه (مجموعه) سره رانغاړي، چې په طبیعي ډول سره اوډل شوې وي او په ذهنونو کې یوه نتیجه یا نتیجې پرځای پرېږدي. داستان، حقیقت خوښوونکی دی. یانې له افسانې سره یې توپیر همدا دی، چې داستاني پېښې له ذهن څخه په بهرنۍ نړۍ کې د پېښېدو وړ دي. له همدې کبله، د دغسې داستانونو لیکنه، یوې ځانګړې تګلارې ته اړتیا لري، چې وکړای شي، وخت، ځای، پېښې، کسان، د ویلو ډول او نورې داستاني ځانګړتیاوې په اغېزناك او غوره ډول انځور کړي.

د داستان په برخه کې بېلابېلې ډلبګندۍ شوې، چې هره یوه د پام وړ ده. کولای شو داستان په لنډو، نیمه اوږدو، اوږدو، انځوروونکو، تاریخي، اخلاقي، ټولنیزو، عشقي او پولیسي ډولونو ووېشو. دغه راز د رښتیاپالنې یا نه پالنې له مخې هم کولای شو داستان پر څو برخو ډلبندي کړو. بشپړې ډلبندۍ هم شته، چې وروسته به یې یادونه وکړو.

Download from: ketabton.com

## د داستان موضوع

داستان، له ډېر پخوا څخه ديوې هنري او پيام لرونکې بڼې په توګه لوړ ځای درلودلی دی. هر وخت په يوه بڼه مطرح شوی، چې تل يې د خلکو له خوا هرکلی شوی او کېږي. د دې ادبي قالب ارزښت په دې کې هم دی، چې د غوره پيامونو د لېږدونې په برخه کې ډېر اغېز لري او دغه توکي په ډېر روڼ انداز سره لوستونکو ته وړاندې کوي.

د يوه داستان د ليکلو په وخت کې، تر هرڅه وړاندې د "موضوع" يا "سوژې" له مسئلې سره مخ کېږو. غوره به دا وي چې په دې اړه لږ څه نور هم ووايو.

سوژه يا موضوع څه ده؟

موضوع، د ادبي کار لپاره د ليکوال لومړنۍ سرچينه ده. موضوع، د کيسې د اصلي جوړښت پيل دی. هغه څه ده چې داستان پرې راڅرخي. يو محور دی. په حقيقت کې موضوع د داستان مرکز ګڼل کېږي. د سوژې يا موضوع ټاکنه په يوه تعبير د داستان لپاره د موخې ټاکنه ده.

د هر داستان جوړښت له موضوع څخه پيلېږي. يانې له هغه ځرك څخه چې د ليکوال په ذهن کې رامنځته کېږي او د کيسې د ژوند شمع بلوي.

پر دې بنسټ، سوژه يا موضوع، هغه څه ده چې له بېلابېلو پديدو سره د ليکوال د سوچ، ذهن او حواسو له مخامخېدو سره سم په هغوی کې ځراکت او غور هڅوي، دغه راز د اور غوندې د هغوی په تن کې بلېږي او څه ليکلو ته يې هڅوي. په بله وينا: موضوع، لومړنی داستاني حس دی، چې د ليکوال په ذهن کې ځای نيسي. د هر داستاني اثر موضوع: "ځای"، "موقعيت" يا "يوڅوك" وي.

د سوژې ځانګړنې:

يوه ښه موضوع يا سوژه، بايد د پراختيا او غزېدنې وړتيا ولري.

هره سوژه د داستان لپاره مناسبه نه وي. کېدی شي ځينې سوژې د فلمونو په درد وخوري او بله سوژه بيا د ننداراليك (نمايشنامې)، يا هم د شعر.

له همدې کبله د يوې داستاني موضوع پېژندنه ډېر لوړ ارزښت لري. د سوژې جوړونه د ليکوال د باورونو پر بنسټ جوړښت خپلوي. خو د مسلمانو ليکوالو په توګه زموږ لار له نورو څخه بېلېږي. د داستان له ځانګړنو څخه يوه دا ده

Download from: ketabton.com

چې موږ هڅه کوو موضوع له مذهبي باورونو او اخلاقي معیارونو سره وتړو. د همدې اړیکي له مخې د سوژې یوه ځانګړنه "خدای ستاینه" ګڼلای شو. له همدې کبله هدف خوښوونکی لیکوال باید پند او عبرت روزنه، د داستاني موضوعاتو له نورو ځانګړنو څخه وګڼي.

په هر حال، په سوژه کې باید د مخاطب کس څواکونه او اړتیاوې تر کتنې لاندې ونیول شي. طبیعي خبره ده چې مثلاً د ماشومانو داستان باید د هغوی ځانګړنو او درك ته په پام سره ولیکل شي، باید چې د داستان په ځانګړنو کې د مخاطبینو ځانګړنې او داستاني قالبونه هم راشي.

په سوژه کې جذابیت او جالبیت هم د پام وړ دی. دغه له ټولنیز وخت او شرایطو سره د موضوع تناسب، کېدی شي د سوژې له ځانګړنو څخه وي. کېدی شي یوه موضوع د یوه وخت او شرایطو لپاره ښه او مناسبه وي. حال دا چې هماغه موضوع به د بل وخت او شرایطو لپاره وړ او مناسبه نه وي. بیا هم موږ ته تر هرڅه ارزښتمن توکی د یوې موضوع په ټاکنه کې فکري ژوروالی او مکتبي باورونو ته پاملرنه ده.

د موضوع موندنې لارې چارې:

موضوع موندنه باید د لیکوال د یوه تلپاتي خصوصیت غوندې مطرح وي. دا باید ومنو چې چقماق ډبره چې څنګه د یوه هنرمند په ذهن کې یوه رڼا رامنځته کوي، دغه رڼا په بېلابېلو مواردو کې توپیر کوي. خو د یوې غوره لارې په خپلولو سره یوه سوژه او موضوع تر ګوتو کولای شو.

د داستانونو پرله پسې څېړنو ښوولې چې د پېښو په متن کې حضور، د یوه فعال ذهن او هنري لید لرل، تفکر، تخیل او کله- کله د تېرو خاطراتو زېرمه، ښه فلم لیدل، د یوه غږ اورېدل یا د یوې پېښې تجربه کولای شي په ذهن کې دغسې یوه رڼا وزېږوي، چې دغه رڼا بیا وروسته لیکوال ته یوه ګلالۍ او په ټول پوره سوژه په لاس ورکوي.

انسان کولای شي، له دې لارې بېلابېلې سوژې تر ګوتو کړي. د موضوع موندنې بله غوره لار دا ده چې موږ تجربه کړو او وګورو چې کوم عنصر یا عناصر زموږ عاطفه راپاروي. کله چې غواړو د یوې موضوع لپاره مو په ذهن کې یو دغسې بڅری وزېږي، باید د هغه عنصر ګاونډي شو. په بله وینا په ځانګړو حالتونو کې د انسان ذهن، هغه د یوې "سوژې" د موندلو پر لوري هڅوي. موږ باید دغه موقعیتونه ولټوو او په هماغو شرایطو کې تم شو، چې د سوژې رڼا مو پر ذهن خپره شي.

د لیکوال پنځه ګوني حواس کولای شي انساني حس ته په رسېدو سره د یوې موضوع د موندنې لامل شي. د "تولستوی" په وینا: د داستان یا بل هنر ښه والی، د هغو حسونو په ښه والي پورې اړه لري، چې په هغه کې وي.

Download from: ketabton.com

باید ټینګار وشي، چې د بېلابېلو سوژو نړۍ ته د لار موندنې په خاطر نه شو کولای ټولو ته یوه لار غوره کړو او ټول یو ډول ولیکو. باید وپوهېږو چې په نړۍ کې د انسانانو په انډول د لیکلو لپاره موضوعګانې شته، دا لیکوال دی، چې باید د موضوع د ښکار او خپلولو لپاره لارې چارې ومومي.

کومه موضوع دې ولیکل شي؟

له یوې موضوع یا سوژې سره د ګاونډېتوب احساس او نژدېوالی، دغه راز د دې سوژې د تحلیل او هنري تفسیر لپاره اړتیا کېدی شي، د داسې یوې موضوع نخښه وي، چې د لیکلو لپاره وړ وي.

د هغو سوژو یادښتونه چې لږ تر لږه ذهن ته راځي او په هغو کې د یوې غوره کول، بیا تر څه مودې وروسته د غوره شوې سوژې په توګه خوندي کول او په پام کې نیول، په دې شرط چې پورتنۍ ځانګړنې ولري، په دې لار کې ګټور تمامېدی شي. نو ویلای شو، چې د ځینو دلیلونو له مخې نه شو کولای هره سوژه ولیکو. یو ښه داستان لیکونکی باید د خپل تخیل، تجربې، زده کړو او اعتقاداتو په مرسته یوې نوې سوژې ته غوره او داستاني بڼه ورکړي.

کټ مټ د رڼا د هغه منشور په څېر چې د لیکوال ټولې موندنې خوندي کوي او له ځانه یې تېروي، بیا د لیکوال ذهن او عقل، د بېلابېلو رنګ لرونکو رڼاګانو په شان په زړه پورې ښیي. موضوع پاکیزه ده، چې د یوه ښه او ګلالي داستان رامنځته کېدو ته یو ښه لامل وګرځي.

Download from: ketabton.com

## په داستان کې د لید زاویه

لیدلوری، یا هم د لید زاویه داسې موضوع ده، چې لیکوال یې د خپل داستان د روایت لپاره خپلوي. لیدلوری، د نظر نقطه هم ژباړل کېږي، چې په حقیقت کې د داستان له لیکنې سره د لیکوال اړیکه ښيي.

هغه ټکی چې داستان لیکونکی په کې درېږي او له هماغه ځایه د پېښو ننداري ته کښېني او لوستونکو ته یې هم ورښيي، ځکه ډېر ارزښت لري، چې داستان لیکونکی باید له هماغه پیله وپوهېږي او تصمیم ونیسي، چې د داستان روایت کوونکی څه ووایي او څنګه روایت وکړي. په دې توګه به هغه څه، چې د داستان په بهر کې یې راوړي، استوار، ښکلی او د منلو وړ وي.

په طبیعي ډول، که څو کسان له بېلابېلو زاویو او ځایونو څخه یوې منظرې ته ځیر شي، نو بېلابېل صفتونه او خبرې به وکړي، هر کس چې یوڅه ویني، یا ورسره مخ شي، یو ځانګړی قضاوت کوي.

په همدې توګه که د داستان روایت کوونکی، د داستان له اتلانو څخه وي، یا دا چې لیکوال په خپله په لوړ ځای کې ودرېږي او د حالاتو بیانول پرغاړه واخلي، د لیدلوري بېلابېلې زاویې به رامنځته شي. نو پر دې بنسټ د لید زاویه یانې "څوك یو داستان ووایي" او "دا داستان څنګه وویل شي؟" په ټولیز (کلي) ډول هر "لیدلوری- دیدګاه" د دې لامل کېږي، چې لیکوال خپلو اومه (خامو) توکو (موادو) ته انسجام، هماهنګي او یووالی وبخښي. دغه راز له داستان او بیا لوستونکو سره خپله اړیکه ټینګه کړي .

د لید زاویه په حقیقت کې د یوې ځانګړې تګلارې خپلول دي، چې لیکوال هڅوي مواد، مصالح، مانا او د داستان پیام لوستونکو ته ورولېږدوي او په دې توګه له هغه سره خپل اړیکي ټینګ کړي.

نو، که لیکوال نه پوهېږي چې د داستان روایت چا ته ورسپاري او خپله دی، یا بل څوك څنګه د داستان روایت وکړي، له شك پرته چې په خپله موخه کې به پاته راځي.

په بله مانا، ویلای شو: د هرې موضوع حق هغه وخت په ښه توګه ادا کېږي، چې لیکوال تر ټولو غوره لیدلوری وټاکي او لیکوال په هوښیارانه او ماهرانه ډول د خپل داستان زړې وټاکي.

د لید زاویه په دودیز ډول په لنډو داستانونو کې زیاته ثابت پاتېږي، خو په اوږدو داستانونو کې د لیکوال خوښه ده، چې هره برخه له یوه بېل لیدلوري څخه رامنځته کړي.

د لید د زاویې ډولونه:

لکه څنګه چې د لید زاویه د داستان د نورو عناصرو غوندې خپل اغېز لري، د غوره لید زاویې ټاکل هم خپل ارزښت لري.

Download from: ketabton.com

ځکه چې د داستان ډلبندي ورپورې تړلې ده. د ځانګړي لید د زاویې د ټاکلو لپاره تصمیم نیول باید له دغو پوښتنو سره مل وي:

ځوک غواړي چې داستان ووایي؟

دغه کس تر کومه حده حق لري، چې پر مسایلو وپوهېږي؟

د داستان لیکوال باید تر کومه حده د خپل داستان د شخصیتونو دروني دنیا ته وګوري او تر کومه بریده یې احساسات او فکرونه ولولي او څرګند یې کړي؟

دغه وړ پوښتنو ته ځواب ورکول، له لیکوال سره د لید د غوره زاویې په ټاکنه کې مرسته کوي.

خو د داستان لیکنې په وخت کې باید د داستان ټول اړخونه او مسایل په پام کې ونیول شي. دغه داستان که په هر قالب او له هر لیدلوري څخه ولیکل شي، یو غوره داستان به وي. خو د داستان لپاره ځانګړی لیدلوری او د لید زاویې شته، چې تر ټولو ارزښتمن یې دا دي:

د شخص (روایت کوونکي) د لید لومړۍ زاویه.

د درېیم یا (پر ټولو شیانو د پوه کس) لید زاویه.

د لومړي شخص د لید زاویه:

په دې برخه کې داستان د اصلي کس یا یوه فرعي شخصیت له خوا ویل کېږي. ته وا لیکوال، د کوم شخصیت په بدن کې دی او د لوستونکي له سترګو او د دغه شخصیت له خولې دغه داستان وایي. دغه کس، پر ځان ټول واکمن احساسات، دغه راز د داستان د اتلانو، ټول فکرونه، چلند او انګېزې، وېره او هیلې په ژور ډول خپلو لوستونکو ته ورلېږدوي.

د لید دغه زاویه د داستان د ویلو لپاره تر ټولو غوره ده، ځکه د لید یوه ځواکمنه او طبیعي زاویه ده، ځکه چې خپله عیني شاهد وي، لوستونکی له ځان سره ملګری کوي او پېښو ته یې بیایي. په پېښو کې د لوستونکو دغه ګډون د هغوی د باور ځواک لا زیاتوي.

باید پام وساتو، چې لومړنی روایت کوونکی که هرڅوک وي، داسې کس دی، چې عادي دی او د پوهې دایره یې هم د نورو عادي کسانو د پوهې او خبرتیاوو په کچه کوي، دغه کس اټکل کولای شي او د ځینو مسایلو استنباط یې هم له وسه پوره دی.

Download from: ketabton.com

د لید په دې ډول زاویه کې، په پېښو کې د روایت کوونکي د ګډون له کبله، لوستونکو ته د پېښو منل او اغېز زیاتېږي او د داستان منل اسانوي. له همدې کبله د داستان د ذات خوښونې مسله هم صمیمانه او اغېزناکه کوي.

دغه راز په لومړۍ شېوه کې، د داستان ارتباط او اړیکي په اسانۍ سره ټینګېږي. په داستان کې په اسانۍ سره وحدت او هماهنګي رامنځته کېږي او په پایله کې لوستونکي د مطالبو ژورو ته ځي.

پر دغو ښېګڼو سربېره، دغه ډول (شېوه) ځینې نیمګړتیاوې هم لري. یوه دا چې روایت کوونکی د ځان په اړه ډېر څه وایي، خو د نورو په اړه لږ. د ځان دننه ویني، د نورو بهرنی وجود. یانې تل د نورو کسانو د دننه او بهر په اړه لوستونکو ته وینا کوي. هغه د شخصیتونو په حضور کې د هغوی د خبرو په اورېدو او د کړنو په کتو سره کولای شي د هغوی د کارونو، یا هم د هغوی د فکرونو په اړه څه ووایي. دغه راز روایت کوونکی نه توانېږي، چې په نېغ ډول خپلې مثبتې ځانګړنې بیان کړي، یا هم په ورو چلند یا وینا سره دغه ځانګړنې څرګندې کړي.

د روایت کوونکي ډېرې خبرې او د داستان د شخصیتونو په جوړونه کې ناکامي هم پر دغو ځانګړنو زیاتولای شو.

د درېیم کس د لید زاویه:

د درېیم کس یا د پوره پوه کس د لید په زاویه کې لیکوال ځان د داستان له فضا څخه بهر باسي او له هماغه د باندې نه خپلو لوستونکو ته د ټولو پېښو او بهیرونو ګزارش ورکوي.

په درېیمه شېوه کې لیکوال د داستان له فضا څخه یو بهرنی کس او ځان ته یو پټ او ور ځای ټاکي، چې له هغه ځای څخه د پېښو او صحنو صفتونه کوي. په دې وخت کې لیکوال له پراخې پوهې او ډېرو نورو ځانګړنو څخه برخمن دی. هغه واك لري، چې هرځای وغواړي، لاړ شي او هر وخت چې یې زړه وي، د اتلانو له فکرونو، احساساتو او نیتونو څخه خبر شي او خپل لوستونکي هم ترې خبر کړي. هغه کولای شي چې د وخت په ژورو کې وړاندې وروسته لاړ شي، څېړنه او کتنه وکړي او د خپلو اتلانو په ذهن کې ژور شي. لیکوال دغه راز کولای شي د خپلو تېزبینو سترګو په مرسته او د صحنه جوړونې له ځواك څخه په کار اخیستو په خپله خوښه د پېښو ټولګې سره واوډي او لنډیز یې د خپل استنباط له مخې لوستونکو ته وړاندې کړي.

د شخص درېیمه طریقه، ساده، جوړوونکې او اغېزناکه وي، ځکه په دې طریقه کې له لیکوال څخه څه پټ نه دي، په دې طریقه کې له پېښو ډك داستانونه غوره خېژي، په دې لیدلوري کې شخصیت جوړونه اسانه ده، چې صحنې هم په اسانۍ سره بدلېدی رابدلېدی شي.

کله چې د داستان روایت کوونکی له بهر څخه صحنو او شخصیتونو ته ګوري او د بشپړ پوه په توګه د اتلانو خبرو، کړنو او د داستان د پېښو کتونکی دی، نو کولای شي د اړتیا له مخې هر وخت خپل ځای بدل کړي او له کوم بل

Download from: ketabton.com

ځای ځخه خپلې کتنې ته دوام ورکړي. دغه راز په پوره توګه هڅه کوي، چې هېڅ شی يې هم له سترګو څخه پټ پاته نه شي.

خو بيا هم د ليد دغه زاويه له نيمګړتيا څخه بې برخې نه ده. د ساري په توګه لوستونکی له شخصيتونو څخه لرې فاصله اخلي او هغه اړيکه چې د لومړي کس په ليد کې شته، دلته نه مومي، دغه راز دغه طريقه د ليکوال له کړنو، موخېراتپلو او تعصب څخه خوندي نه شي پاتې کېدی. دغه راز ليکوال هم، روايات کوونکی د پېښو له دايرې څخه د ليرېوالي له کبله له اتلانو او پېښو څخه خپل پيوستون او د يووالي احساس له لاسه ورکوي، چې له صميميت يو او ورې يورنګي څخه نه برخمن کېږي.

نور ليدلوري:

د لومړي او درېيم کس د ليد پر زاويې سربېره، نور ليدلوري هم شته، چې دلته به يې ځينو ته اشاره وکړو.

کله چې يو کس روايت کوي، نو د داستان اتل د ذهن په ناخوداګاه دنيا کې يون کوي، چې ځينې خاطرې يادوي، کله هم له ځان سره خبرې پيلوي. په هغو داستانونو کې چې په دې ډول ليکل کېږي، چاپېريال لږ رنګ لري او ډېر نه ستايل کېږي. ويلای شو چې په دې ډول (شېوه) کې ډېر فرعي داستانونه سره تړل کېږي.

په هغه شېوه کې چې يو کس روايت کوي، ليکوال يو کس مخاطبوي او ورسره غږېږي. دغه مخاطب شخصيت کېدی شي يا رښتيني اتلان وي، يا هم نه وي. په دې ډول کې ليکوال يوازې نکلچي دی او په خپله په داستان کې ونډه نه لري. يا هم اتل او ليکوال دواړه په داستان کې وي.

په هغه ډول کې چې بهرنۍ څرګندونې ورته وايي. ليکوال په داستان کې نه داخلېږي. بلکې اصلي شخصيت مخاطبوي. (دويم اتل هغه کس دی، چې ورسره خبرې کوي) په دې ډول کې ښه شخصيت جوړونه کېږي. دلته له اتل سره د صميميت احساس نه پېښېږي، بلکې د ليکوال سيوری تل تر سترګو کېږي.

د ليك ليكنې په ډول کې داستان د يوه يا دوو کسانو ترمنځ د ليك ليكنې په توګه وړاندې ځي، کېدی شي يو کس يو خيالي شی مخاطب کړي، يا هم دوه کسان يو ګډ شخصيت جوړ کړي او د هغه په اړه خپل ترمنځ وليکي. يا هم دوه ليکوال څو ګډ شخصيتونه جوړ کړي، ان يو کس بل ته يو نوی شخصيت رامنځته کړي...

Download from: ketabton.com

## داستاني قالبونه

که څه هم د داستان په اړوندو مسایلو کې پېچلتیا، ډلبندي یو څه ستونزمنوي. خو د هغو ځانګړنو له مخې چې د داستان په بېلابېلو بڼو کې شته، کولای شو، داستاني قالبونه په لاندې توګه سره ووېشو:

لنډ داستان.

رمانس.

داستاني اعترافات یا اتوبیوګرافي (د حال شرحه).

طنز.

موږ به دلته داسې داستانونو ته هم کتنه وکړو، چې لوستونکي په داستان پورې له اړوندو مسایلو سره هم اشنا کوي.

داستان هر ډول لیکل کېږي، چې لیکوال یې په چوکاټ کې خپل فکر او اندود ځایوي او خپلو لوستونکو ته یې وړاندې کوي. کېدی شي زیات داستانونه نارښتینې جنبه ولري، یا هم د لیکوال له نظره پر رښتینولیو ولاړ وي، چې د تخیل او د لیکوال د سینګار په مرسته یې ښکلا موندلې وي.

هغه څه چې د داستان د لوستنې او کشش لامل ګرځي، داستاني پېښه، سینګار، د لیکلو ډول او ... دي، چې اصلي مفهوم او رښتینی پیام په نامستقیم او اغېزناك ډول لوستونکو ته رسوي.

لنډ داستانونه او رمان:

د لنډ داستان پېژند (تعریف) هماغه د عام داستان پېژند دی. په یوه تعبیر کولای شو لنډ داستان د حکایت یوه ټوټه وګڼو، چې لوستنه یې له لسو دقیقو څخه نیولې تر یوه ساعته پورې وخت نیسي. دغه وړ داستانونه په دودیز ډول د یوې موضوع، یوې پېښې یا د داسې پېښو د لړۍ په اړه لیکل کېږي، چې سره نژدې اړیکي ولري. له همدې کبله ویلای شو، هغه کار چې لنډ داستان یې پیلوي او پایته رسوي، یو بشپړ کار دی.

موږ یو ښه لنډ داستان د لنډیز، نوښت، د طرحې د روڼوالي، نویوالي او د بیان دډول له مخې پېژندلای شو. اکثره لنډ داستانونه له یوې داسې پېښې سره، چې د داستان د یوه یا دوو کسانو له خوا ترسره کېږي، سر و کار لري.

په لنډ داستان کې په اصولي ډول، یو کس یا یو اصلي اتل او یوه پېښه ځای لري. البته دا خبره دا مانا نه لري، چې په لنډ داستان کې فرعي شخصیتونه یا پېښې ځای نه لري. خو ډېر لږ وخت داسې پېښېږي، چې د یوه داستان دوه شخصیتونه دې، د ارزښت له مخې له هره اړخه سره برابر وي.

Download from: ketabton.com

ویل کېږي، چې له رمان سره د لنډ داستان توپر د داستان په لنډوالي او د رمان په اوږدوالي کې دی. یانې لنډ داستان باید د رمان ټولې ځانګړنې ولري. (لکه: د شخصیت یا شخصتیونو لرل، طرحې، په شخصیتونو کې ژورتیا او د ژوندني چاپېریال څرګندونه...)

طبیعي خبره ده، چې شخصیت جوړونه، پېچلې طرحې او د داستان نورې ځانګړنې باید د داستان د لنډوالي د غوښتنې له مخې وشي، ځکه د رمان په پرتله په لنډ داستان کې لیکوال ډېر کم وخت لري، نو پېښې باید لنډې او خلاصه شوې وي.

له بله پلوه، رمان د لیکنې لپاره زیات وخت ته اړتیا لري. که ځوان لیکوال خپل کار له لنډ داستان څخه پیل کړي، توانېږي چې د یوه ښه داستان لپاره وړ مهارتونه او تجربې ترلاسه کړي. لنډ داستان، لیکوال ته امکانات ورکوي، چې جوړښتونه، بڼې او داستاني تکنیکونه (د لومړي یا درېیم شخص روایت، پر خبرو اترو بسنه یا هم صحنه جوړونه) هم تجربه او تمرین کړي. خو په رمان کې د اوږدوالي له مخې لیکوال دا امکان لري، چې ډېر اتلان دې رامنځته شي، دغه راز دې لیکوال په ژوره، غوره او دقیقه توګه د هغوی په دروني پلټنه لاس پورې کړي او څرګنده کړي چې د شخصیتونو اندېښنې، غوښتنې او ځانګړنې څنګه د وخت په تېرېدو سره له پېښو سره د مخامخېدو له کبله بدلون مومي او د ژوند په لوړو ژورو کې د تجربو زده کړه هم بڼه بدلوي.

دغه راز د رمان اوچتوالی، لیکوال ته دا ځواك ورکوي، چې د لنډ داستان د لیکونکي پرخلاف، د منظرو او شخصیتونو په ستاینه او انځورولو کې له دودیزې او عامې ژبې څخه کار واخلي او داسې کنایې یا القاب وکاروي، چې ورڅخه سترګې پټول، د کار نیمګړتیا ګڼل کېږي. ویلای شو چې شخصیت، د مضمون وحدت، ستونزې، لانجې او انتظار د لنډ داستان او رمان له مشترکو ټکو څخه ګڼل کېږي.

په ټولیز ډول د لنډ داستان او رمان مشترك وجوهات، له یوې خوا د هغوی بېلوالی ښیي، له بلې خوا د هغوی د خپلوي څرګندویي هم کوي.

رمانس:

په دوولسمه میلادي پېړۍ کې رمانس د اسطورې له ګېډۍ را وزېږېد.

رمانس، په ټولیز ډول له سترو نارینه ګانو او مېرمنو سره سر و کار لري. له داسې سترو نارینه وو او مېرمنو سره، چې له دودیزو انسانانو توپیر لري او په څرګند ډول ترې بدل دي.

Download from: ketabton.com

په بله وینا، رمانس له اتلانو سره مینه لري. د مېړانې، ظلم، غندنې، وفا، پاکۍ، راستۍ، سپېڅلتیا، رښتینولۍ د ځانګړنو لرونکو شخصیتونو، که اجازه ولرو منفي شخصیتونو ته هم اتلان ووایو، نو د شرارت او فساد له اتلانو سره هم مینه لري. موږ وینو چې د دودیزو انسانانو په پرتله په رمانس کې شخصیتونه تر ډېره حده ”نمادین“ دي.

په حقیقت کې کولای شو، رمانس د اسطورې، چې د خدایانو داستان دی او رمان، چې له عادي انسانانو سره سر و کار لري، منځنی حد وګڼو.

البته رمانس د رمان په پرتله زوړ قالب دی او تر ډېره حده له اتل جوړونې سره سر و کار لري. په دغه داستاني قالب کې په شعوري یا ناشعوري ډول له تمثیل څخه کار اخیستل کېږي. یانې هر وخت د رمانس په لمنلیك کې د ”تمثیل“ په نامه یوه مسئله مطرح ده.

په رمانس کې یو ځواکمن او توند ذهنیت څرګند دی، چې په رمان کې بیا نه شته. پر دې بنسټ ویلای شو، چې د رمان او رمانس ترمنځ توپیر، د شخصت جوړونې په بڼه کې دی.

مېرمن ”ریو“ په خپل ”د رمانس د تاریخ بدلونونه“ نومي کتاب کې د رمان او رمانس د توپیر په اړه کاږي:

...”رمانس د یوه اتل کیسه ده، چې د افسانوي اشخاصو او څیزونو په اړه کیسې کوي. رمان داسې انځور دی، چې د رښتیني ژوند، دود او دستور او هغه وخت په اړه چې دغه رمان په کې لیکل شوی، خبرې کوي. رمانس په ویاړمنه ژبه د هغو څیزونو کیسه کوي، چې ګردسره پېښ شوي نه دي او نه به هم پېښ شي. خو رمان داسې کیسې وړاندې کوي، چې هره ورځ زموږ د سترګو په وړاندې پېښېږي. هغه که پر موږ راځي، یا هم زموږ پر دوستانو .

د رمان کمال په دې کې دی، چې ټولې صحنې او پېښې باید داسې په بې تکلفۍ او طبیعي ډول وړاندې کړي، چې موږ باوري کړي: (هغه وخت چې په لوستنې بوخت یو) چې ګوندې اشخاص، شیان او پېښې رښتیني دي. د داستان خوشحالۍ او خپګان یې باید پر موږ دومره اغېز وکړي، چې موږ ګومان وکړو هغوی او موږ یو واحد ذات یو.“

نو ویلای شو، چې رمانس یو مستقل او بېل داستاني قالب دی، چې له رمان سره جوت توپیر لري.

Download from: ketabton.com

## د داستان طرحه

د یوه داستان ژوند، له هغه ځایه پیلېږي چې یوه سوژه یا موضوع په تدریجي ډول د لیکوال ذهن ځان ته راوکاږي او داسې اور پرې بل کړي، چې هغه لیکنې ته وهڅوي.

د سوژې د ټاکنې د بهیر پای، یانې د لیکوال له خوا د سوژې د لیکلو لپاره غوڅ تصمیم، د کار د پراختیا لومړنی پړاوونه دي. سوژه یوه ټاکنه ده او "طرحه" د موضوع د پراختیا او کارونې لار. داسې لار چې هدف او پیام ته د لیکوال د رسېدو زمینه برابروي او په ښکلي ډول د هغه سوچ، د لوستونکي ذهن سیمې ته لېږدوي.

لکه څنګه چې موږ د یوې ودانۍ د جوړولو لپاره نقشې ته اړتیا لرو، چې د اصولو له مخې خپل کار پیل کړو، داستان لیکونکی هم دغه ډول یوې طرحې ته اړ دی. هر ځای د داستاني طرحې په باب بېلابېل تعبیرونه او څرګندونې راوړل شوي: د داستان اصلي اډانه، د داستان اسکلېټ، د داستان لنډیز، چې د اصلي او د لیکوال د پام وړ ټکو ضمانت وکړي. هغه څه چې په داستان کې پېښېږي، یا هم د پېښو پیوند.

فورسټر په خپل "د رمان جنبې" نومي کتاب کې داستان د پېښو د بهیر یو داسې نقل ګڼي، چې د وخت د ډلبندۍ له مخې سره اوډل شوی وي. بیا وروسته زیاتوي: پر اړیکو، علت او معلول باندې په تکیې سره طرحه هماغه د پېښو نقل دی.

خو فورسټر وایي چې: "سلطان مړ شو او وروسته ملکه". دا یو داستان دی، خو که ووایو: "سلطان مړ شو، تر څه مودې وروسته ملکه هم د غم او خواشینۍ له کبله مړه شوه" دا یوه طرحه ده. په حقیقت کې "داستان" د مخکېنۍ پېښې لپاره زموږ تمه او انتظار زیاتوي. حال دا چې "طرحه" زموږ په ذهن کې ډېر "ولې؟" راژېړوي.

نو د داستان د پیوندولو یوه اړیکه او هغه څه چې د داستان، پیل، منځ او پای سره ګنډي، بیا د لیکوال اصلي فکر په کې زغلوي او د یوه واحد شي په توګه یې موږ ته راوړاندې کوي، طرحه ګڼل کېږي. په بله وینا، داستان لیکونکی چې په خپل ذهن کې څه روزي او بیا یې سره اوډي هغه طرحه ده، چې د یوه داستان د جوړښت له ارزښتمنو توکو څخه ګڼل کېږي.

انګرېز لیکوال "ارنولډ بنټ" یوه ښه طرحه "د داستان هرڅه" ګڼي. طبیعي خبره ده، چې د هر لیکوال نړۍ لید او لیکنه به پر هرې کاري طرحې سیورې اچوي او د هغه د ذهن تر شا پټ شوی فکر به په یو ښه ډول څرګندوي.

د طرحې ځانګړنې:

یوه ښه طرحه، باید بشپړه او څرګنده وي، چې لیکوال د داستان لیکنې په برخه کې خپله ستونزه وپېژني. کټ- مټ د هغه مسافر په څېر چې غواړي له مشهد څخه تهران ته لاړ شي او په دې یون کې به له نیشاپور، سبزوار، شاهرود

Download from: ketabton.com

او سمنان څخه تېر شي او په هر یوه ښارګوټي کې د یوه ځانګړي کار لپاره تم شي. څرګنده خبره ده چې د مسافرت په دوران کې، یانې د داستان لیکنې او د طرحې د پلې کولو پر وخت به کېدی شي نااټکل شوې ورېې پېښې وشي. خو دا هېڅکله هم د مسافر موخه نه شي ترې هېرولای، بلکې هغه به پر لار له دغو پرتو ښارګوټو څخه تېرېږي. نو د طرحې څرګندتیا او بشپړتیا هم د یوه ښه داستان له ځانګړنو څخه ګڼل کېږي.

د یوې غوره طرحې بله ځانګړنه د پېښو او خبرو اترو ترمنځ منطقي اړیکه، نظم او پیوند دی. چې په طبیعي ډول د داستان پای، د لیکوال دپام وړ پایلې سره، د لوستونکي په ذهن کې ځای ونیسي.

دغه راز لنډ داستان کله- کله لیکوال ته محدودیتونه هم زېږوي، چې د یوې پېچلې طرحې پراختیا ددې ډول داستان له حوصلې څخه وتلی کار دی. نو د لنډې کیسې (لنډ داستان) طرحه باید زیاته پېچلې نه وي .

د داستان طرحه باید داسې جوړه شي، چې د باور لرلو اړخ یې هم رعایت شوی وي، چې د لیکوال او لوستونکي، یا لوستونکي او داستان ترمنځ اړیکه ټینګه پاتې شي. که په داستان یا طرحه کې راغلي توکي پر واقعیت ولاړ نه وي، لږتر لږه یې د پېښېدو امکان هم باید د باور وړ وي. په عین حال کې باید طرحه داسې پېچلتیا ولري، چې له هماغه پیله لوستونکي وهڅوي چې داستان نور هم تعقیب کړي. که داسې نه وي، نو لوستونکی به داستان تر پایه نه لولي.

دغه راز په داستاني طرحه کې له انساني احساساتو او عاطفې، دغه راز نورو توکو څخه کار اخیستنه، چې داستان ته کشش او جذابیت ورکوي، د طرحه جوړونې له نورو ځانګړنو څخه ګڼل کېږي.

د ښې طرحې له ځانګړنو څخه دا هم ده، چې طرحه باید لږ تر لږه نوې وي.کېدی شي د یوه ځوان لیکوال ذهن ته دا ورشي، چې په اسانۍ سره یوه طرحه نه شي موندل کېدی، خو بېلابېلو لیکوالو د ډېرو کلونو په ترڅ کې له بېلابېلو طرحو څخه کار اخیستی او وربانديې یې کار کړی دی. خو په دې برخه کې بله چاره داده چې موږ باید د موضوع بېلابېل اړخونه په پام کې ونیسو. که څېل لیدلوری پر کار واچوو او د موضوع بېلابېل اړخونه په پام کې ولرو، موږ به غوره او د باور وړ داستاني طرحې ولرو.

لنډه دا چې په طرحه کې باید داسې یو کار وکړو، چې د لوستونکي تلوسه راوپاروو. هغه د شك او انتظار په حالت کې وساتو. په داسې حال کې لوستونکي له ځانه پوښتي چې: اخر به څه کېږي؟ دغه کار لوستونکي هڅوي چې داستان تر پایه ولولي. یو بل چل چې د طرحې د پېچلتیا لپاره کارېده. هغه د طنز مسئله ده. په داستان کې درې ډوله طنزونه وي: د موقعیت طنز، نمایشي او ګفتاري طنز.

د موقعیت طنز، دهغه څه پایله ده او په هغه څه کې راڅرګندېږي، چې ظاهراً طرحه وي او واقعیت نه لري. (د هغه څه څرګندونه چې دی او باید وي).

Download from: ketabton.com

نمايشي طنز، هم هغه داستان ګڼل کېږي، چې خلك د پېښو په اړه خبرې کوي او ورباندې باوري دي. يانې د داستان شخصيتونه پرته له دې چې وپوهېږي څهووايي، خبرې کوي. خو لوستونکي چې د پېښو په اړه ډېره احاطه او ژورتيا لري، د داستان د انسانانو د خبرو په مانا ښه پوهېږي.

ګفتاري طنز، د بيان او د يوه داستاني شخصيت ترمنځ يو تضاد دی. له دغو ټکو څخه د طرحې د رښتينې کولو او پېچلې کولو لپاره کار اخيستل کېږي.

په هر حال، بايد څرګنده شي، چې "طرح" د يوه په زړه پورې او ښه داستان د جوړښت په برخه کې ارزښتمن رول لري، کېدی شي طرحه د يوه ښه داستان زړه نه وي، خو د هڅوکو له جوړښت پرته به زړه هم ژوندی نه وي.

همدلته بايد دې ټکي ته اشاره وشي، چې تجربه لرونکی پوه او برلاسی داستان ليکونکی، هڅه کوي د داستان په جوړښت کې طرحه داسې وغزوي، چې لوستونکي د داستان د نورو اجزاوو د اړيکو شننې ته هم وخت پيدا نه کړي.

استادانه طرحه هم بشپړ جوړښت لري، هم منطقي اوج او پايلې ته رسېږي، هم يې توکي سره تړلي دي او هم متقابل روابط سره لري. وړاندې مو هم ورته اشاره وکړه، چې کله- کله کېدی شي د داستان ليکلو پر وخت، ليکوال په خپله طرحه کې زياتونې او کمونې ور وګڼي. خو دا ټول د داستان د نړۍ نااټکل شوي پرمختګونه اولاسته راوړنې دي، نه د طرحې لومړنيو کرښو ته کوم ګوزار.

د يوه ښه داستان طرحه، نه شي کولای چې د داستان له ټوليز مفهوم او شخصيتونو څخه بېله شي.

د دې برخې په پای کې دا يادونه په کار ده چې، طرحه بايد ډېره تکراري، عادي موضوع، دوديزه پېښه او کليشه يي نه وي. داستاني طرحه د "او.هنري" ليکنه ده چې د "داستان ليکنې هنر" نومي کتاب کې راغلې ده. هغه د يوې غوره طرحې په باب کاږي:

"يوه کارګره نجلۍ له ډېرې مودې راهيسې ناروغه ده. ورځ په ورځ ډنګرېږي، ډاکټر يې ګاونډی دی، هغه يو زوړ سړی دی. يو سپين ږيری انځورګر يې هم دوست دی. دوی ټول هڅه کوي، خو د نجلۍ له ژوند څخه اميد ختلی دی. منی دی او د پېچك د ونې ژېړې پاڼې يوه په بلې پسې رژېږي. ناروغه نجلۍ دکټ له لوړې څخه د پاڼو رژېدو ته ګوري او له ځان سره سوچ کوي چې د وروستۍ پاڼې په رژېدو سره به هغه هم ومري.

ډاکټر وايي، ناروغ چې کوم تصور لري، د هغه له کبله به خپل ژوند له لاسه ورکړي. خو که هغه هيله منه کړای شي، کېدی شي روغه شي.

خو په ونه کې يوازې يوه پاڼه پاتې ده، نجلۍ هم يقين لري، چې د هغې پاڼې په رژېدو سره به ومري. د شپې مهال باد چغې وهي او توپان هم غړمبېږي. خو پاڼه پرخپل ځای پاتې ده او نجلۍ ته ګوري. نجلۍ هم د زړه قوت مومي او د ناروغۍ ستونزې زغمي. لا يې دا ربړه پايته نه ده رسېدلې، چې سپين ږيری انځورګر، په خپلو کولمو کې د

Download from: ketabton.com

ورپېښې ستونزې له کبله مري. سپين ږيري چې وليدل باد به هغه وروستۍ پاڼه له ونې څخه راجلا کړي، نو د شپې يې زينه او څراغ راواخيست او پر دېوال يې يوه پاڼه انځور کړه."

دا يوه طرحه ده، چې "او.هنري" له هنرمندانه استفادې او ښکلي جوړښت څخه يې په کار اخيستو سره، د "وروستۍ پاڼې" داستان جوړ کړ.

Download from: ketabton.com

# نور ټکي

د داستان سرليك:

لکه څنګه چې هر کس او هر شی يو نوم يا سرليك لري، نو هر ادبي اثر هم بايد خپله پېژندپاڼه ولري. مورې د داستان نوم، د هغه پېژندپاڼه ګڼلای شو، د داستان نوم بايد په غور سره وټاکل شي. ځکه سرليك او نوم د لوستونکو د پام راګرځونې يو ارزښتمن لامل ګڼل کېږي.

د داستان نوم، يا سرليك بايد ښکلی او زړه راکښونکی وي. ددې تر څنګ لکه څنګه چې په نامستقيم ډول د داستان موضوع ته نژدې دی، بايد دومره څرګند هم نه وي، چې په لومړي نظر سړي ته ټوله موضوع روښانه کړي، ځکه په دې توګه د داستان راکښون کمېږي. لوستونکي بيا داستان تر پايه نه لولي.

کېدی شي داستان ته يوازې يو توری د سرليك په توګه وټاکل شي، لکه: "مور"، يا يوه جمله لکه: "اوبه چې له چينې څخه بېلې شوې". کېدی شي د داستان نوم دوه تکراري توري وي، لکه "باران- باران" يا هم دوه غير تکراري توري، لکه: "د حيواناتو کلا".. داستان ته داسې نوم هم ورکولای شو، چې د پوښتنې بڼه ولري، لکه: "شعر څه دی؟."

کولای شو داستانونو ته ځينې ادبي نومونه ورکړو، لکه: "د پتنګانو ټپي وزرونه."

په ټوليز ډول، د داستان، نوم اېښوول، خپل ارزښت لري، چې د ليکوال ذوق او سليقه هم څرګندوي.

د داستان پيام:

مورې پيام د داستان لنډيز او نچوړ ګڼلای شو. هغه څه چې لوستونکی د داستان تر لوستلو وروسته د پايلې په توګه ترګوتو کوي. طبيعي خبره ده، چې دغه مهمه مسله بايد د داستان په رګ- رګ کې ځای کړای شي .

دا ښه کار نه دی، چې ليکوال د داستان په پای کې په مستقيم او ناڅاپي ډول پر خپلو لوستونکو يوه خبره وروتپي. په حقيقت کې د پيام غير مستقيموالی د داستان له اصلي ځانګړنو څخه ده، لکه وړاندې چې ورته اشاره وشوه، بايد د داستان پيام د داستان له پيله تر پايه پورې تر پام لاندې وي. نو په ګرد داستان کې هره پېښه او خبرې اترې د داستان "پيام" لېږونکی دی. ښه او غوره پيام هغه دی، چې لوستونکی يې تر مطالعې وروسته ترلاسه کړي. پيام بايد داسې جوت او ارزښتمن وي، چې د لوستونکو ذهن او زړه ته لار ومومي او تر ډېره حده يې بوخت وساتي.

ارزښتمن او ښه پيام هغه دی، چې د انساني او الهي مسايلو کتونکی او د لوړو ارزښتونو لېږدوونکی وي، ځکه چې په بشري قاموس کې "وخت" ډېر ارزښت لري. نو د داستان لوستونکي او ليکوال بايد له وخت څخه د ګټې اخيستنې چل زده کړي. هسې دې د منفي او خنثی پيامونو په لوستنې او ليکلو سره خپل وخت نه خرابوي.

Download from: ketabton.com

کېدی شي هر داستان يو، يا څو اصلي، يو يا څو فرعي پيامونه ولري، خو يو داستان بايد خامخا يو "اصلي پيام" ولري. "اصلي پيام" تل جوت مطرح کېږي، چې د داستان اصلي ستن ده.

داستاني نثر:

که داستان ليکونکی غواړي له خلکو (يا خپلو لوستونکو) سره اړيکي ټينګ کړي او هغوی ته يو بريمن پيام ولېږدوي، نو بايد مقابل خلك وارزي، د هغوی له ژبې سره دې بلدتيا ومومي. داسې نثر دې وليکي، چې ټول ورباندې وپوهېږي، ځکه چې دغه اړيکي به په بري سره وغزول شي.

نثر، د داستان د کشش او د پيام لېږدونې لپاره له ارزښتمنو توکو څخه ګڼل کېږي. د ليکوال لپاره "توري" د کار اوزار يا داسې چوکاټ دی، چې بڼه، هدف او پيام يې مل وي. دغه اسکلېټ د نثر په مرسته بشپړېدی شي.

نو توري او جملې، يا په بله و ينا، نثر، ځانګړی ارزښت مومي. ځکه چې د ليکوال فکر، احساس او تخيل د همدغو تورو او جملو په مرسته لوستونو ته لېږدول کېږي. پر دې بنسټ د سوچونو او انګېرنو د ښېړنې لېږدونې لپاره بايد سمه او ګټوره لار وټاکل شي. دغه لار د غوره داستاني نثر ټاکنه ده.

دا هم بايد هېر نه شي، چې د داستان هره برخه، له نورو برخو سره اړيکه لري، دا د همدغو توکو پيوند او يووالی دی، چې د داستان په نوم يې يو واحد شکل رامنځته کړی دی.

پر دې بنسټ، سره له دې چې د داستان هر توکی خپل ځانګړی ځای او ارزښت لري، د داستان پر نورو جوړښتونو هم اغېز لري. که موږ د داستان يو عنصر له منځه يوسو، په داستان کې به ستره نيمګړتيا رامنځته شي .

نثر هم خپل ځای او رول لري. له بله اړخه، د هر کار د زده کړې لپاره په هره رشته کې د زده کوونکو ذوق او استعداد ته په پام سره، د استاد شاګردي کول، يوه ارزښتمنه مسله ده. په ليکوالۍ کې هم بايد دغه ټکي ته زياته پاملرنه وشي. ځوان ليکوالان بايد په وياړ سره د فن د استادانو شاګردي وکړي، چې پرمختګ يې په برخه شي .

په حقيقت کې د سترو ليکوالو د نامتو اثارو مطالعه او د هغوی د کار پر څرنګوالي غور کول، کولای شي له داستاني تکنيکونو سره زموږ بلدتيا زياته کړي. دلته به په پرله پسې ډول د نثر څو ځانګړنې واوډو:

داستاني نثر بايد ښکلی وي، ښکلي ليکل غوره دي، خو ښکلي ليکل بايد نور مسايل تر شعاع لاندې ونه نيسي.

داستان ليکونکي بايد د تورو په ټاکنه کې، يا هم په ټوليز ډول د داستان په نثر کې زياتی ونه کړي، نه دې بېغوره پاتې شي، بلکې په دې برخه کې اعتدال تر ټولو غوره دی.

د تورو سم او په غور سره ټاکنه ځانګړی ارزښت لري، ځکه ويلي يې دي، چې هر توری پر خپل ځای ښکلی دی.

Download from: ketabton.com

- باید له زیاتو خبرو ډډه وکړئ، خبرې مو باید لنډې او اغېزناکې وي، نه اپلتې!
- ښه به دا وي چې کلیشه یي جملې او تکراري توري ونه کارول شي.
- په داستان کې له پېچلتیا څخه ځان وساتئ.
- په نثر کې نوښت ډېر مهم دی، تاسې پخوانیو، زړو شویو او بې ارواوو تورو ته اړتیا نه لرئ.
- د داستان نثر باید سره راغونډ، ژوندی، نرم او ښکلی وي، چې لوستونکي د داستان نړۍ ته راوبولي.
- ساده ګي، د داستاني نثر بله ارزښتمنه ځانګړنه ده.
- د نثر په انډول دې د داستان موضوع ته هم پاملرنه وشي.

د داستان هره موضوع ځانګړي نثر ته اړتیا لري. خو باید د نثر وړتیا ته وکتل شي، چې د داستان لپاره وړ وي. دا هغه څه دي، چې د داستان لیکونکي او مقاله لیکونکي د نثر توپیر کوي.

خو، بله مسله هم باید هېره نه شي، چې هغه زموږ په داستاني نثر کې ماته لیکنه ده. په دې برخه کې خلك بېلابېل نظرونه لري .

ځینې کسان د خبرو اترو (محاورې) ښه لیکل (په ماتو تورو سره) غوره ګڼي. بله ډله بیا کتابي لیکنې ته ارزښت ورکوي.

خو باید یادونه وشي، چې داستاني ادبیات هم باید د ژبې له اصولو سره وفاداره وي او هم یې په ساتنه کې مرستندوی وي، چې د ادبیاتو لوړ مقام مو هماغسې اوچت پاتې شي. نو په کار ده چې توري په سم او وړ ډول وکارول شي.

کله- کله د داستان فضا داسې وي، چې د صمیمیت لپاره ماتو تورو (خبرو اترو) ته اړتیا پېښېږي. نو پردې بنسټ لیکوال دې وګوري، که داسې لیکنې ته اړتیا وه، ودې لیکي. طبیعي خبره ده چې که د داستان لپاره اړتیا وه او لیکوال هم دا وړتیا ولري، چې له محاورې څخه کار واخلي او دا لیکنه په استادانه ډول وکړای شي، نو څه خبره نه ده.

خو لکه څنګه چې ورته اشاره وشوه، د کار طبیعي بڼه هماغه په کتابي بڼه لیکل دي. بیا دې هم پاملرنه وشي، چې د شخصیتونو خبرې اترې کېدی شي د خبرو اترو په عادي بګڼه راشي.

وروستۍ خبره همدا، چې نثر یانې د تورو ټاکنه، د جملو لنډوالی او اوږدوالی، وزن او اهنګ... چې دا په لیکوال او بېلابېلو ویندویانو پورې اړه لري.

نثر، د داستان د یوه بېل احساس او عاطفې د بار لېږدوونکی دی. چې د تورو په کارونه کې باید ورته پام وشي.

Download from: ketabton.com

د داستان لیکونکي کار:

یو داستان لیکونکی څه کوي؟

دا هغه پوښتنه ده، چې د دې کتاب په پای کې ورته اشاره کوو او د داستان څوان مینه وال پرېږدو، چې د دې واټ (سړك) په پیل کې د پرمختګ پر لوري ګام واخلي او له خپلو تجربو یا هم ښوونکو څخه مرسته وغواړي.

یو لیکوال، داستان: "څلوېښت پوښ لرونکې بوخڅه" ګڼي. تاسو به هم لیدلي وي، چې زیاتې مېرمنې له زړو ټوټو (ټوکرانو) او اضافي کالیو څخه یوه بوخڅه جوړوي.

په یوه مانا، د داستان لیکونکي کار هم همداسې دی. هغه د یوه هنرمند په څېر، په خپل نوښت سره له هرځای څخه بېلابېل او سره پاشلي توکي ټولوي. بیا یې سره پیوندوي او یو اغېزناك واحد داستان ترې جوړوي.

د شخصیت جوړونه، خبرې اترې، ځانګړنې، پېښې او د داستان غوره واړه توکي، لیکوال هڅوي، چې له خپل چاپېریال څخه د منل شوي اغېز په رڼا کې پنځونه (تخلیق) وکړي.

نو د داستان لیکونکي د کار ظرافت دا دی، چې دغه پیوندونه باید ډېر ظریف، دقیق او ښکلي وي، چې لوستونکي وربانديې ونه پوهېږي.

مورې، په دې ټولګه کې هڅه وکړه، چې هغه سترې داستاني ټوټې تاسو ته درډالۍ کړو.

اوس د دې وخت را رسېدلی، چې تاسې لاس په کار شئ. "ستن و تار" یا "د مطالعې تار" راواخلئ او د "داستان بوخڅه" وګنډئ.

الحمد لله

د ژباړې نېټه

/1382مرغومی/27/26 مه

کابل- خیرخانه مېنه، د ژمي سړه شپه

12بجې

Download from: ketabton.com

## اعترافات یا داستاني شرحه

اعترافات هم په نامحسوس ډول له رمان سره تړاو لري. اکثره د حال د شرحې لیکونکو هڅه کړې، چې د داستاني خوځښت تر اغېزې لاندې یوازې د خپل ژوند تجربې او پېښې غوره وګڼي، چې په پایله کې یوه بشپړ سرمشقي جوړښت ته لار پرانیزي.

پر دې بنسټ ویلای شو: کله چې یو لیکوال د خپل ژوند پېښې او ځانګړنې لیکي، نو لیکنو ته یې اتوبیوګرافي وایي. دغه غیرداستاني ادبي شکل له داستاني عناصرو څخه برخمن دی، چې ډېر به په زړه پوری هم وي. خو مادام، بیا داسې لیکنه داستان نه ګڼې، چې لیکوال یې تر ډېره کچه پر تمثیل تکیه کوي.

اوس که لیکوال د واقعیت له ستایلو لږ وړاندې ګام کښېږدي او یوازې هغه تجربې یا پېښې غوره کړي، چې د هغه له شخص څخه یوه څېره او شخصیت جوړ کړي، یوه سوچ او لېوالتیا ته یو جوړښت ورپه برخه کړي، یانې له واقعیت څخه لږ وړاندې لاړ شي، نو دغې داستاني بڼې ته "اعتراف" وایي.

ویل کېږي چې د دې ډول (بڼې) نوښتګر قدیس اګوستین (430_354) دی. ژان ژاك روسو هم د دغه ډول داستاني قالب یوه بڼه رامنځته کړې ده.

تر روسو وروسته رمان او اعتراف سره راونغاړل شول او په پایله کې داستاني اتوبیوګرافي رامنځته شوه.

داستاني ژوندلیك هم له همدغو ډولونو څخه یو دی. خو توپیر یې دا دی، چې لیکوال یې له تجربو، یا هم د خپل ژوند له پېښو څخه د ګټه اخیستنې پرځای، بل کس د خپلې لیکنې د سرچینې په توګه ټاکي.

نو اعترافات یا داستاني شرحه، د انسان دروني احساساتو او فکرونو ته ځیر ده. خو د منځپانګې له مخې تر ډېره ځایه فکري او نظري مسایلو ته لاس غزوي.

زیاتره اعترافونه نظري او فکري مسایلو ته د لیکوال د لېوالتیا او خوښې له کبله په یوه مذهبي، سیاسي او هنري زمینه کې رامنځته کېږي.

منیپوسي طنز:

زیات داستانپوهان، د ګالیور د یونلیك کتابونه او د جاناتان سویفت لیکنې په داستان کې شمېري، خو رمان ورته وايي .

Download from: ketabton.com

ښرګنده خبره ده چې د ګالیور سفرونه یو ډول اعترافونه یا رمانس هم ګڼلای شو. په دې توګه باید چې دغه دول داستانونه، په ځانګړې توګه د ولټر په قلم کاندید شوې لیکنې، د داستان یو مستقل شکل وګڼو.

دغه ډول داستانونو ته یې د منیپوسي طنز نوم ورکړی دی. د نوموړو وجه یې هم دا ګڼي، چې د دې بڼې نوښتګر یو یونانی لیکوال (منیپوس) دی. د هغه اثار پاته نه دي، خو شاګردان یې د هغه د کار بڼه تر اوسه روانه او ژوندۍ ساتلې ده. منیپوسي طنز، د انسان د ځان په پرتله د هغه ذهني لېوالتیا څېړي .

له اعترافاتو سره یې توپیر دا دی، چې د مجردو فکرونو او نظرونو په ښرګندولو لاس پورې کوي. خو د شخصیت جوړونې له اړخه یې کار له رمان سره توپیر لري. په منیپوس طنز کې د چلند له مخې شخصیتونه ټاکل کېږي. شخصیتونه دودیز انسانان او د زمان و مکان محصول نه دي، بلکې ویندویان دي. ځانګړی دریځ او تګلاره لري. په بله مانا رمان لیکونکی شر، حماقت، تعصب او ځورونه د ټولنیزې ناروغۍ په توګه راپېژني. په داسې حال کې چې د منیپوسي طنز لیکوال، دا د انسانانو خپله ناروغي او ناپوهي ګڼي.

رمان لیکونکی خپله ژورتیا او شته د انساني اړیکو د تجزیې او تحلیل له لارې ښرګندوي. په داسې حال کې چې د منیپوسي طنز لیکوال یوازې له معقولو مضامینو او د مسایلو له متفکرانه کتنې سره سر و کار لري او په نظري بحثونو سره خپل اغېز زیاتوي.

Download from: ketabton.com

## په داستان کې د شخصیت عنصر

شخصیت هغو کسانو ته ویل کېږي، چې په داستان، ننداریلك او... کې د لیکوال د ذهن زېګړنده وي. په دې پیدایښت کې لیکوال کولای شي په ازادانه توګه عمل وکړي. شخصیت ته "کرکټر" هم وايي. په پښتو کې ورته "اتل_ قهرمان" هم ویلای شو.

په داستان کې شخصیت ډېر ارزښت لري او د داستان له ارزښتمنو او مهمو عناصرو څخه ګڼل کېږي. موږ وویل چې داستان لیکونکی، د عمل دا ازادي لري، چې په خپله خوښه اتل، یا اتلان وټاکي. طبیعي خبره ده، چې د لیکوال له خوا دا ا تلان له هغو کسانو څخه ټاکل کېږي، چې په ورځني ژوند کې ورسره مخ دی.

تېر وخت به لیکوالو په خپلو داستانونو کې د عجیبه او هېښوونکو اتلانو په اړه کیسې کولې او ډېر حیرانوونکي کارونه به یې ورپورې تړل .

خو اوس په دې باور دي، چې شخصیتونه باید پر خپلو ټولو پېچلتیاوو سربېره رښتیني وي، یا هم لږ ترلږه رښتیني وبرېښي. یانې لوستونکي باید دغه اتلان له وېناوو او کارونو سره یوځای ومني. د داستان د نورو عناصرو په پرتله شخصیتونه ډېره تلوسه راپاروي او د باور لامل ګرځي. بیا تر څېړنې او تجزیې لاندې نیول کېږي. په یوه مانا د داستان د عنصرونو ژوندي پاتېدو یو غوره والی هماغه شخصیتونه دي، چې د داستان په بهیر کې ورسره مخ شوي او روږدي شوي یو.

پر همدې بنسټ ویلای شو، چې شخصیتونه باید لوستونکو ته معقول، د باور او منلو وړ وي، چې لوستونکي په منطقي او بشپړ باور سره د پام وړ پېښه تعقیب کړي او د داستان پیام ترلاسه کړي، ترې خوند او پند واخلي.

یونانیان، شخصیت هماغه برخلیك (سرنوشت) ګڼي، دغه راز "هنري جیمز" بیا باوري دی، چې شخصیت هماغه د پېښې ټاکونکی او پېښه د شخصیت پرانیستونکی دی.

یو ژوندی او ښه شخصیت باید درېیو لاملونو ته وفاداره وي:

الف: په خبرو او عمل کې ثبات او پایښت:- د پام وړ شخصیت باید د داستان تر پایه پورې ثابت پاتې شي. (په کارونو او وېناوو کې) نه دا چې هره شیېبه یو کار وکړي او یو څه ووایي. البته شخصیت کولای شي خپله وینا او عمل بدل کړي. په دې شرط چې لیکوال د خپلو اتلانو د بدلون لپاره قانع کوونکي دلیلونه ولري.

ب: د چلند د بدلون او دوام لپاره د معقولې انګېزې لرل:- په دې مانا چې لیکوال باید د خپلو اتلانو د ټولو وېناوو او عملونو لپاره ټینګ دلیلونه ولري. ډېر منطقي او قانع کوونکي دلیلونه.

Download from: ketabton.com

البته وړ نه ده چې لیکوال دې هره شېبه د اتلانو د ادلون بدلون له کبله لوستونکو ته څه ووايي. خو دا د هر لوستونکي طبیعي حق دی، چې لږ تر لږه د پېښې په پای کې د اتلانو د چلندونو د بدلون علت ځان ته څرګند کړي.

ج: رښتيني او منطقي اوسېدل: - داستاني شخصيتونه بايد رښتيني او منطقي وي. لوستونکي بايد دا احساس ترلاسه کړي، چې دغه شخصيتونه د ژوند په عادي پېښو کې هم لټولای شي. نو شخصيت بايد د تقوا مجسمه، يا د پستۍ او پليدۍ ښکارندوی نه وي. لوستونکی بايد د داستان اتل ومني، چې د هغه او داستان ترمنځ اړيکه ټينګه کړي، په همدې توګه شخصيت بايد له نامکمنو خصلتونو څخه يو ترکيب شوی توکی وي. شخصيت بايد رنګين او ژوندی وي. د شخصيت جوړونې لپاره کولای شو، د ليکوال له خوا له مستقيمې څرګندونې يا هم د شخصيت له څرګندې ارايې څخه مرسته وغواړو، يا دا چې د شخصيت له لرې څرګندونې او شرحې څخه ګټه پورته کړو .

د يوه شخصيت د پېژندنې تر ټولو غوره لار خبرې اترې، حرکت او پوهونه ده. طبيعي خبره ده چې ليکوال بايد خبرې ونه کړي او څه ونه وايي، بلکې بايد هرڅه څرګند کړي، شخصيت هم د خپلې وينا او چلند په مرسته ځان راپېژني. که له داستان څخه کوم شخصيت ليرې کوو، بايد چې د داستان جوړښت ته زيان ونه رسېږي. شخصيت زېږوونکی دی، بايد چې داستان ته را وارد نه شي، پوهېږو چې په داستان کې فرعي شخصيت يا شخصيتونه هم شته. فرعي شخصيتونه يو مخ لري، چې ترپايه نه بدلېږي، يوه يا دوې ځانګړنې لري، په بيړه راڅرګندېږي، د دوی کار د اصلي شخصيتونو يا اتلانو څرګندتيا او رنګينول دي.

په طبيعي ډول، هر شخصيت په يوه مکان او وخت کې ژوند کوي، دغه ټکی هم د هغه شخصيت پر خوی، فکر او چلند اغېز اچوي، چې داستان ليکونکی يې بايد هېر نه کړي. شخصيتونه په دوو ډلو وېشل شوي دي: تم شوي شخصيتونه او ګرځنده شخصيتونه.

تم شوي شخصيتونه: هغه شخصيتونه دي، چې بدلون نه مني، يا هم لږ بدلون مومي، په دې مانا چې د داستان په پای کې هماغه وي، چې په پيل کې وو.

ګرځنده شخصيت: هغه شخصيت دی، چې په داستان کې په پرله پسې ډول د بدلون په حال کې وي. دغه بدلونونه کېدی شي برسېرن، يا ژور، محدود او پراخ وي.

د دې ټکي يادونه هم ضروري ده، چې په هر داستان کې بايد د شخصيتونو د بدلون هيله ونه لرو، ځکه لنډ داستانونه، د شخصيتونو د دغسې بدلون لپاره وخت او حوصله نه لري.

ليکوال له څو لارو کولای شي د اتلانو ځانګړنې او کارونه مطرح کړي: د نوم په وسيله، د ستاينې او تشريح په مرسته، د خبرو اترو يا هم عمل په واسطه. د اتل نوم د هغه د ځانګړنو د پېژندنې لپاره يوه کيلي ده، چې تر يوه حده څرګندوي، دا اتل د کوم ځای دی او يا هم په کوم مذهب پورې اړه لري.

Download from: ketabton.com

داستاني شخصيتونه د ستاينې او تشريح له لارې هم څرګندولای شو. ليکوال کولای شي د حال په څرګندولو سره، چې اتلان څوك دي، د کوم ځای دي، ظاهري چاپېريال يې څنګه دی، د اتل په څرګندونې لاس پورې کړي .

دريېمه لار، عملي يا نمايشي چلند دی. څرګنده خبره ده، چې اتلان، کله چې له پېښې سره مخ کېږي، په ځانګړو موقعيتونو کې د ځانګړو غبرګونونو په ښوولو سره ځان ښيي.

په پای کې بايد ووايو چې کولای شو د شخصيتونو د فکرونو او خبرو اترو له لارې، يا هم د نورو د قضاوت له مخې د اتلانو د پېژندنې پر لوري ګام واخلو.

په داستان کې د منلو او بريو کچه د ليکوال په مهارتونو او تکنيکونو پورې اړه لري، که موږ وغواړو چې د يوه داستان په شخصيت جوړونې لاس پورې کړو، لومړنۍ پوښتنه چې بايد له ځانه يې وکړو، دا ده چې دا داستان د چا پېښه ده؟ او نورې پوښتنې: د اصلي او فرعي شخصيتونو ترمنځ اړيکه، د هغوی د توپير او ورته والي حدود، د غه راز د شخصيتونو د پوهېدنې وړتيا، د هغوی د کارونو د انګېزو او د کارونو معقولوالی. ايا شخصيتونه په ټوليز ډول توانېدلي چې په لوستونکو کې همدردي او (ذات خوښونه) وهڅوي؟ او دا ډول نورې پوښتنې...

د پای خبره دا چې زموږ په نظر، شخصيت جوړونه بايد داسې وشي، چې ښوونيز اړخونه هم ولري. يا په بله وينا د هغو اتلانو په جوړولو لاس پورې کړي، چې وينا او چلند يې پند لرونکي وي او لوستونکي بايد ښو او نېکو کارونو ته وهڅوي.

Download from: ketabton.com